

Ketabton.com

# د صدقي فضيلت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الحمدلله الذی هدنا الی الاسلام و ما کنا لنهتدی لولا ان هدانا الله هو الرحمن علم القران خلق الانسان علم البیان هو الرب الاکرم الذی علم بالقلم علم الانسان مالم یعلم له الحمد کما یمبغی لجلال وجهه و عظیم سلطانه و جلیل انعامه الذی علمک مالم تعلم و کان فضل الله علیک عظیم.**

**وصل الله تعالی علی خیر خلقه الذ ارسله الی کافه الناس بشیراً و نذیراً وصلی الله تعالی علی خیر خلقه و اصحابه اجمین.**

**آما بعد:**

**لیکونکی:العبد الفقیر**

**سرچینه:د معاشری اصلاح له کتاب څخه**

**معاشری اصلاح تالیف:حضرت مولانا عاشق الله (رحمه الله)**

**معاشری اصلاح نظر ثانی:حضرت مولانا عبدالصبور حقانی(رحمه اله)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د صدقې فضيلت

إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَأَقْرَضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَاعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ(الحديد)١٨

ترجمه:بیشکه خیرات کوونکی سړی او خیرات کوونکی ښځی او هغه کسان چی قرض ورکوی په قرض نیکک سره نو دوه چنده به کړی دوی لره او دوی لره ثواب دی نیک

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا))(التوبه-١٠٣)

ترجمه: واخله ته له مالونو د دوی نه خیرات چی پاک کړی دوی لره له ګناهونو او بیا ښه پاک کړی په هغه سره

د ابو هريرة(رض) نه روایت دی چی بیشکه نبی کریم(ﷺ) فرمایلی دی چی بیشک یو ملایکه اواز کوی د دروازو د اسمانونو نه او وایی چی څوک به قرض ورکړی نن ورځ چی سبا ته یی بیا لاس ته راوړی

او بله ملایکه اواز کوی چی ای ډلی د بنی ادم تاسو د مرګ لپاره پیدا یی او ابادی کوی د خرابیدو لپاره یعنی(نه به تاسو باقی یی په نیا کی او نه ستاسو کورنه بلکی هرڅه فانی دی(تنبیه العامه)

نبی کریم(ﷺ) فرمایلی دی چی ما پوښتنه وکړه د جبرائیل علیه السلام نه د صدقی په باره کی جبرائیل علیه السلام راته وویل چی ای محمده (ﷺ) صدقه په (٧)اوه قسمه ده

په اعتبار د ثواب سره

(١)یو په یو (٢) یو په لس (٣) یو په اویا (٤) یو په سل(٥) یو په اوه سوه(٦) یو په نهه سوه(٧) یو په نهه لاکه.

رسول الله (ﷺ) وفرمایل چی ای جبرایل علیه السلام ماته خبر راکړه په دی اووه قسمه صدقو باندی جبرایل علیه السلام وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو په یو هغه ده چی مالدار ظالم ته ورکړی دا یو په یو ثواب لری.

یو په لس هغه ده چی روغ صحت ولری کار کولی شی خو اقتصاد یی لړ خراب وی دی ته چی ورکړل شی یو په لس ثواب لری.

یو په اویا هغه ده چی خپل خپلوان دی غریب وی هغوی ته یی ورکړی دا یو په اویا ثواب لری.

یو په سل هغه ده چی فقیران،مسکینان،کونډی،یتیمان، دوی ته چی ورکړل شی یو په سل ثواب لری.

او یو په اوو سوه هغه ده چی ستا مور پلار غریبان وی او ته تری جدا یی هغوی له چی ورکړی یو په اووه سوه ثواب لری.

او یو په نهه سوه هغه ده چی یو معزور ته ورکړی شی چی کار نشی کولی او غریب وی دی ته چی ورکړل شی یو په نهه سوه ثواب لری.

او یو په نهه لاکه هغه ده چی یو طالب العلم ته ورکړی شی هغه طالب چی متقی وی دی ته چی ورکړی شی نو یو په نهه لاکه ثواب لری دا د صدقی اقسام ول چی تاسو ته بیان شو.

شیخ احمد پخپل کتاب کی لیکلی دی چا چی یو ځل صدقه ورکړه الله (ج)به ده ته لس نعمتونه نصیب کړی پنځه په دنیا کی او پنځه په اخرت کی

ده دنیا پنځه نعمتونه دا دی:

۱)مال به یی پاک شی

۲)بدن به یی پاک شی(یعنی ګناهونو څخه)

۳)دفعه به شی ده څخه مرض او تکلیف

۴)همیشه به ذکر کوی او له ذکر سره به یی شوق پیدا شی

۵)د مرګ په وخت کی به ورته کلیمه د شهادت نصیب شی او ایمانداره به له دنیا لاړ شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اخرت پنځه نعمتونه:

۱)په ورځ د قیامت کی به په ټولو خلکو باندی ډیره سخته ګرمی وی په ده باندی به د صدقی سیوری جوړ وی او له ګرمی څخه به بچ وی

۲) د قیامت سخته او د حساب کتاب سخته به اسانه شی

۳)تله د نیکو اعمالو به یی درنده شی

۴) خدای (ج) به دوه وزری ورکړی او په پل صراط باندی به الوزی

۵) الله (ج) به یی جنت ته داخل کړی او ټول نعمتونه به یی نصیب شی او په خپل مبارک دیدن به یی مشرف کړی

رسول الله (ﷺ) فرمایلی: یوولس(۱۱) ډلی دی چی د هغوی په قبرونو کی رڼا وی او قبرونه به یی فراخ وی

۱)هغه څوک چی د بیمارانو پوښتنه کوی

۲)هغه څوک چی د اوړی ورځو کی روژه نیسی

۳)هغه څوک چی د خپل مور او پلار فرمان بردار وی

۴)هغه سوک چی مرسته کوی هغه کسانو سره چی مشکل کی وی

۵)هغه خزه چی خاوند تری راضی وی

۶)هغه څوک چی د امت علماء سره مینه او محبت کوی

۷) هغه څوک چی په ژوند کی یی ولړه او تنده تیره کړی وی

۸)هغه سوک چی کلیمه طیبه ذکر ډیر کوی

۹)هغه څوک چی همیش په خپلو خبرو کی رښتیا وای

۱۰) هغه څوک چی یتیمانو،فقیرانو، او مسکینانو سره محبت کوی

۱۱) هغه څوک چی د الله (ج) په لار کی مال مصرف کوی یعنی صدقه ورکوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله(ﷺ) فرمایلی دی چی سخی سړی دوزخ ته نه داخلیږی مګر جنت ته داخلیږی او بخیل سړی نه داخلیږی جنت ته مګر دوزخ ته داخلیږی .

دی حدیث مبارک څخه دا معلومه شوه چی سخی سړی به خامخا جنت ته داخلیږی او بخیل سړی به خامخا جهنم ته.

د ابن عباس (رض) نه روایت دی چی رسول الله(ﷺ) تیریده په یو کس باندی چی هغه د کعبی په پردو کی ځان ځوړند کړی وو او دا دعا یی کوله چی ای الله (ﷻ) په عزت د دی مکان ماته مغفرت وکه رسول الله(ﷺ) ورته وویل چی عزت د مومن ډیر لوی دی د عزت د دغه کوټی نه سړی ورته وویل چی ای د الله (ﷻ) رسوله(ﷺ) زما ګناه ډیره لویه رسول الله (ﷺ) ورته وویل چی ستا ګناه څه ده؟

ده سړی ورته وویل چی د الله (ﷻ) حبیبه ما لپاره ډیر زیات مال دی او د ژوند اسباب او اسونه خو لیکن کله چی مانه یو کس سوال وکړو چی ماته لږ مال راکړه نو زما مخ نه داور شغله اوچته شی یعنی ډیر غوصه شم

رسول الله(ﷺ) ورته وفرمایل چی لری شه زما نه ای فاسقه پخپل اور ما مه سوزوه بیا رسول الله (ﷺ) قسم اوکړو چی په هغه ذات می دی قسمچی زما روح د چا په لاس کی دی که چیری ته زر کاله روژی ونیسی او زر کاله مونځونه اوکړی بیا په حالت د بخیلی کی وفات شی تا به الله (ﷻ) نسکور وغورځوی په اور کی ایا ته په دی خبره نه پوهیږی چی بخیی د کفر صفت دی او کفر په اور کی دی او سخاوت د ایمان صفت ایمان په جنت کی دی

د اسماء بنت یزید نه روایت ده چی رسول الله(ﷺ) فرمایلی دی چی راجمعه به کړی شی ټول خلک په یو اوچت میدان کی په ورځ دقیامت او اواز به وکړی یو اواز کوونکی چی څه شول هغه کسان چی لری ول اړخونه دی هغوی د ملاستی ځای څخه(یعنی هغه کسان چی تهجد مونځونه یی کول)

او څه شول هغه کسان چی صدقی به یی کولی له هغه مال څخه چی الله(ﷻ) دوی ته ورکړی وو دوی به پاخیږی او دوی به ډیر لږ وی او داخل به کړی شی دا کسان جنت ته بغیر د حساب نه بیا به حکم وکړی شی باقی خلکو ته د حساب او د کتاب طرف ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تشریح:** تاسو فکر وکړی چی الله (ﷻ) مونږ ته څومره اسانه لاره ښودلی ده چی یو انسان صدقه وکړی دومره ډیر دی خوشحالی درجی ته رسیږی خو بدبختانه اوس هم ټول خلک غافل دی د صدقی د ثواب نه

مونږ او تاسی ته پکار ده چی د الله (ﷻ) په لار کی خپل زان او خپل مال قربان کړو.

رسول الله (ﷺ) فرمایلی دی چی ټول خلک شوق لری چی جنت ته لاړ شی خو جنت بیا د لسو کسانو د راتلو شوق مند دی (یعنی جنت خوشحالیږی د لسو کسانو په راتلو باندی) هغه لس کسان دا دی:

۱-هغه کس چی تهجد مونځ کوی

۲- هغه کس چی اوړی کی روژی نیسی

۳- هغه کس چی تکبیر اولی تری نه فوت کیږی

۴- هغه څوک چی په شپه کی کم خوب او عبادت ډیر کوی

۵- هغه څوک چی همیشه رینتیا خبری کوی

۶- هغه څوک خپل اولاد باندی رحم کوی

۷- هغه څوک چی همیشه په اودسه ګرځی

۸- هغه څوک چی شراب نه څکی

۹- هغه څوک چی په رسول الله مبارک (ﷺ) باندی ډیر درود وایی

۱۰- هغه څوک چی وږی ته ډوډی تږی ته اوبه او بربنډ ته جامی ورکوی او یا د مسلمان ورور حاجت پوره کوی

د حضرت انس (رض)نه روایت دی چی رسول الله مبارک (ﷺ) وفرمایل چې په صدقه ورکول سره د الله(ﷻ) غضب سړیږی او د ناکاره مرګ څخه انسان بچ کیږی(ترمذی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت ابن عباس(رض)نه روایت ی چی رسول الله (ﷺ) وفرمایل ما واوریدل چی کوم مسلمان بل مسلمان ته جامی ورواغوندی نو تر هغی پوری د شخص چی جامی ورکړی د الله(ﷻ) په حفاظت کی وی تر څو پوری چی یو برخه د کالیو هم د ده په ځان کی وی (احمد-ترمذی)

حضرت انس (رض) فرمایی چی رسول الله (ﷺ) وفرمایل الله (ﷻ) ځمکه پیدا کړه نو هغه په خوزیدو شوه بیا یی غرونه پیدا کړل او هغوی ته یی په ځمکه د ودریدو حکم وکړ نو ځمکه ودریده فرشتی د غرونو په سخت والی حیران پاتی شوی بیا فرشتو پوښتنه وکړه ای پروردګاره! ستا مخلوق کی د غر نه زیات سخت څیز شته خدای پاک ورته وفرمایل چی هو هغه اوسپنه ده بیا فرښتو پوښتنه وکړه وکړه ای پروردګاره! ستا مخلوق کی د اوسپنې څخه زیات سخت څیز شته خدای پاک ورته وفرمایل چی هو هغه اور دی فرشتو بیا پوښتنه وکړه ای پروردګاره! ستا مخلوق کی د اور څخه زیات سخت څیز شته خدای پاک ورته وفرمایل هو هغه اوبه دی فرشتو بیا پوښتنه وکړه ای پروردګاره! ستا مخلوق کی د اوبو څخه زیات سخت څیز شته خدای پاک ورته وفرمایل چی هو هغه هوا ده دی فرشتو بیا پوښتنه وکړه ای پروردګاره! ستا مخلوق کی د هوا څخه زیات سخت څیز شته خدای پاک ورته وفرمایل هو چی کله د ادم (ع) زوی یعنی کوم انسان چی په ښي لاس سره داسی خیرات ورکړی چی چپ لاس یی پری خبر نشی نو یعنی صدقه تر ټول سخت څیز ده(ترمذی)

حضرت ابوهریرة(رض)فرمایی چی رسول الله(ﷺ) وفرمایل چی صدقه د مال نه څه کمی نه کوی او چی کوم کس د چا خطا معاف کوی نو الله(ﷻ) د ده عزت زیاتوی او چی څوک عاجزی اختیاروی نو الله (ﷻ) د مرتبه پورته کوی(مسلم)

تشریح: د ارشاد مبارک نه مطلب دا چی په ظاهر خو چی څوک د خپل مال نه صدقه او خیرات ورکوی نو د مال کمی راځی خو په حقیقت کی زیاتیږی ځکه چی د الله (ﷻ) خزانی همداسی خی پریمانه ډکی پرتی دی د سخی په مال کی څو چنده برکت اچوی

دویم دا چی یو سړی د مومن بنده سره زیاتی وکړی او هغه ورته د انتقام اخیستلو په ځای بخشش وکړی نو د ده عزت پری نه کمیږی بلکی زیاتیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم دا چی یو سړی صرف د الله (ﷻ) د رضا په خاطر ځان په خاکسارو کی حسابوی یعنی د چا چاپلوسی او غیره یی په نیت کی نه وی او ځان عاجزو کی هم شماری نو ده دی سړی په دی کار سره وقار اوعزت نه کمیږی بلکی نور هم زیاتیږی.

د حضرت ابوهریرة (رض) نه روایت دی چی رسول الله (ﷺ) وفرمایل چی سخاوت د جنت یوه ونه ده کوم سړی چی سخی وی هغه به د هغی ښانګی ونیسی تر هغی به یی نه پریږدی چی جنت ته یی داخل نه کړی او دغه شان بخل د دوزخ یا جهنم یو ونه ده او ده دی ښانګی به بخیل(شوم) ونیسی او تر هغی نه پریږدی ترڅو یی جهنم ته داخل نه کړی(بیهقی، شعب الایمان)

د حضرت عبدالله بن مسعود(رض) نه روایت دی چی رسول الله (ﷺ) وفرمایل دا هیسکله نشی کیدلی چی کوم سړی حرام مال ګټی او د دغه نه صدقه کوی او دا صدقه د قبوله شی او نه داسی کیدای شی چی دا حرام مال په ځان او په اولاد خرچ کوی او دا تری برکت حاصل کړی او چی کوم سړی د مرګ نه پس حرام مال پریږدی نو دا داسی توښه ده چی د جهنم اور ته به یی ورسوی.

د حضرت ابوهریرة (رض) نه روایت ده چی رسول الله (ﷺ) وفرمایل:

چی سخی سړی د الله (ﷻ) رحمت ته هم قریب دی او جنت ته هم او خلکو ته هم یعنی د هرچا د نظر نه ښه راځی او دا اور نه لری

او بخیل د الله(ﷻ) رحمت نه لری د جنت نه لری دی خلکو نه نه لری او اور د جهنم ته نیزدی دی او بیشکه د بخیل بزرګ نه جاهل سخی د الله (ﷻ) ډیر خوښ دی

د حضرت ابن عباس (رض) نه روایت د چی رسول الله (ﷺ) ارشاد وفرمایلو

چی تاسو ته ونه ښایم چی د الله (ﷻ) په نزد بد ترین سړی سړی څوک دی؟ صحابه کرامو عرض وکړو  یا رسول الله (ﷺ) ولی ونه وښایه

رسول الله (ﷺ) وفرمایل د چا نه چی د الله تعالی د رضا سوال وشی او دا ورنه څه ورنکړی یعنی تش لاس یی اولیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصیحت: مسلمانانو ورونو تاسو سوچ وکړی چی په ټولو انسانانو کی بدترین انسان هغه څوک دی چی ده نه سوال وکړی شی او دا یوه روپی هم نه ورکوی ای زما محترمو ورونو ! الله (ﷻ) مونږ او تاسو ته مال راکړی صرف لپاره دی امتحان چی کوم یو کس زما په لاره کی مال خرچ کوی او کوم کس یی نکوی باید مونږ او تاسی خپل مال او ځان د الله (ﷻ) په لاره کی قربانی کړو.

تاسو حدیث شریف کی مخکی ولوستل چی مال خرچ کول د الله (ﷻ) په لار کی مال کی کمی نه راولی مونږه او تاسو ته ظاهرا دا معلومیږی چی په مال کی کمی رازی د صدقی په ورکولو سره په حقیقت  کی کمی نه راځی بلکی نور هم زیاتیږی که څوک دا غواری چی خپل مال زیات کړی او با برکت یی کړی نو صدقه دی ورکړی د الله (ﷻ) په لار کی ځکه چی دا ټول مال د الله(ﷻ) دی او الله (ﷻ) مونږه ته دا مال امانت راکړی اصل مالک یی

الله (ﷻ)  دی باید مونږ او تاسی صدقه هم د الله (ﷻ) په لار کی وکړو

او بل حدیث مبارک کی تاسی ولوستل چی  جاهل انسان سخی وی دا ډیره بهتر او الله (ﷻ) ته خوښ دی د هغه عابد نه چی بخیل وی داسی عابد چی ټول شپه عبادت کوی او د ورځی روژی نیسی او ټوله ورځ په عباداتونو او ذکرونو او په نفلونو کی تیروی خو بخیل وی او کوم شخص چی پنځه وخته مونځ کوی او نو څه ناڅه عبادت کوی خو سخی وی نو دا عابد سخه چی بخیل ده سو چنده مرتبه اوچته ده

الله (ﷻ) دی مونږه او تاسو ټولو ته توفیق راکړی چی پخپله هم پدی حدیثو عمل وکړو او نورو مسلمانانو ته هم بیان کړو چی هغوی هم په دی حدیثو عمل وکړی

وما علینا الا البلاغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**